مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا
۲۰۲۶/۰۴/۲۸

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
### (نهه دیرشمه برخه)

## ناهید حق

د ضیاء الحق او مریم لور په ۱۹۶۲ز کال کې په کابل کې زېږېدلې ده. مور ئې مریم د ملکې حمیرا ناسکه خور ده. له ۱۹۶۸ تر ۱۹۸۰ز کال پورې د ملالی لیسې ته تللې ده. له ۱۹۷۸ تر ۱۹۸۱ز کال پورې د کابل د زده کوونو او محصلینو د اتحادیې غړې او د مارکسیست رژیم پرضد یوه جنګیالۍ. په ۱۹۸۱ز کال کې ئې د سویټزرلنډ په زوریخ کې ژب پوهنه لوستې ده.

**نور الحق** : وګورئ : نور الحق

## عبدالکریم حقاني

د علي زیو له قبیلې څخه د مولوي عبدالله زوی په ۱۹۰۲ز کال کې په کندهار کې زېږېدلی دئ؛ (د عبدالرؤوف بېنوا ناسکه ورور). معاصر اسلامي عالم. د ۱۹۵۰ز لسیزې په اوږدو کې د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي پوهاند. تر ۱۹۵۵ز کال پورې د (تمیز) د عالي محکمې قاضي القضاة. له ۱۹۵۵ تر ۱۹۶۳ز کال پورې او له ۱۹۶۵ تر ۱۹۶۶ز کال پورې د عدلیې وزارت مرستیال وزیر. د افغان معاصر قانون او د اسلامي موضوعاتو په اړوند د آثارو مؤلف.

## مولوي جلال الدین حقاني

په ۱۹۳۰ز کال کې زېږېدلی دئ. د حزب اسلامي – خالص د فرکسیون مرستیال مشر. (د ځدرانو په سیمې کې) په پکتیا کې د مجاهدینو یو ډېر مهم بولندوی دئ او ویل کېږي چې له ۱۹۷۹ز کال راهیسې ئې د ارګون یوه زښته ډېره پراخه سیمه تر خپلې متداومې اداري لاندې ساتلې ده. له پېښور څخه له استثنایي لیدنو پرته نور ټول وخت دننه په افغانستان کې تېر وي او د جهادي غورځنګ یو له ډېرو مهمو څېرو څخه دئ.

## ډاکټر ځلمی حقاني

د عبدالکریم حقاني زوی په ۱۹۴۶ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۶۵ز کال کې د استقلال له لیسې څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۷۱ز کال کې ئې د «حقوقو لایسنس» [1] تر لاسه کړ؛ او په ۱۹۷۲ز کال کې ئې په عامه حقوقو

[1] - Licence en Droit


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کي د D.E.S. سند تر لاسه کړ؛ په ۱۹۷۳ز کال کې ئې د سیاسي علومو ډیپلوم تر لاسه کړ. او د ( حقوقو دکتورا ) [2] ئې په ۱۹۷۷ز کال کې د ( نیس ) [3] له پوهنتون څخه تر لاسه کړه. ( د نړیو والو اړیکو او نړیو والو قوانینو ) [4] پروفیسر، د ( پاریس پوهنتون ـ ۵ او ۱۰ ) [5] د یو شمېر آثارو مؤلف لکه : UNCTAD او د نړیوالې سوداګرۍ بیا جوړښت [6]؛ هاګ [7]، ۱۹۸۱.

**هروي** : وګورئ : مایل هروي

## امتیاز حسن

په ۱۹۴۴ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۶۸ز کال کې د استقلال له لیسې څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۷۳ز کال کې ئې خپل لیسانس د کابل پوهنتون د ساینس له پوهنځي څخه واخیست. په ۱۹۶۵ز کال کې د ګوند د کانګرس پر مهال، غړی. په ۱۹۶۹ز کال کې د سیاسي فعالیتونو له کبله زنداني سو. په ۱۹۷۳ز کال کې ئې د عسکري د مکلفیت دوره بشپړه کړه. په ۱۹۷۴ز کال کې د اوبو او برېښنا د وزارت رسمي مأمور. د کابل پوهنتون د محصلینو د اتحادیې د بنسټ ایښودونکو /مؤسسانو د غونډې غړی. په ۱۹۷۲، ۱۹۷۳ او ۱۹۷۵ز کلونو کې د کابل د ښاري او ولایتي ګوندي کمیټو غړی. ( د ۱۹۷۸ز کال د اپریل د ۲۷ ) د غوایي له پاڅون وروسته د کابل ولایت د ګوند کمیټې غړی او د اوبو او برېښنا د وزارت د اوبو او د خاورو د سروې رئیس. له څلورو میاشتو وروسته د یوه پرچمي فعال په توګه له کاره وشړل سو او ( د ۱۹۷۹ز کال د دسمبر تر ۲۷ نېټې ) د حفیظ الله امین تر پرځېدلو پورې مخفي پاتې سو. د مرکزي کمیټې په لومړني پولینوم کې د ګوند د مرکزي کمیټې د دائمي غړي او د انقلابي شورې په توګه وټاکل سو. د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند د مرکزي کمیټې د دفاع او عدلي څانګې د وروستنۍ رئیس په توګه ئې کار وکړ. د ۱۹۸۱ز کال د فبرورۍ په میاشت کې د بلغاریا سفیر. د سولې، پیوستون او ملګرتوب د سازمان ( PSFO ) مرستیال رئیس. واده ئې کړی او څلور بچیان لري.

**سید حسن** : وګورئ : سید حسن هېوادپال

**سید حسن فاراني** : وګورئ : جنرال سید حسن فاراني

## استاد فـقیـر حسن

د ( سرنده غږوونکي ) استاد غلام حسن زوی په ۱۹۱۰ز کال کې زېږېدلی دئ. مشهور وایلون غږوونکی او د موسیقي ښوونکی. د ۱۹۸۱ز کال د جنورۍ د میاشتې په ۹ نېټې وفات سو.

---

[2] - Docteur d'etat en Droit
[3] - Nice
[4] -Professor International Law and International Relations
[5] -University of Paris (V and X)
[6] - UNCTAD and Restructuring of International Trade, " in Le Nouvel Order Economique International
[7] -The Hague


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

## ډاکټر سید امیر شاه حسن یار

د سید غلام حسن زوی په ۱۹۳۹ز کال کې د بامیانو په پنج آب کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۶۶ز کال کې د کابل پوهنتون د کرنې له پوهنځي څخه د لیسانس په درجې فارغ او خپله ماستري ئې په ۱۹۷۰ز کال کې د نیویورک له دولتي پوهنتون څخه اخیستې ده. او له ۱۹۷۴ تر ۱۹۷۷ز کال پورې ئې خپله دکتورا د کولورادو له دولتي پوهنتون څخه اخیستې ده. د کرنې په پوهنځي کې اسیستانت او د تعلیم او تربیې د انستیتیوت غړی. د کابل پوهنتون د تعلیم او تربیې د پوهنځي د کارمندانو غړی. تر ۱۹۷۳ز کال پورې د ښوونې او روزنې په پوهنځي کې پوهنیار. له ۱۹۷۴ تر ۱۹۷۷ز کال پورې د کرنې د پوهنځي پوهاند. د ایکولوژۍ او بشري محیط په ډګر کې د ګڼ شمېر آثارو لیکوال. مورنۍ ژبه ئې دري ده.

## عزیز حساس

د غوايي له پاڅون وروسته د ملي ګارډ بولندوی

## پوهاند داؤود سعدالدین هاشمي

د غوايي له پاڅون وروسته په اداري چارو کې د کابل پوهنتون مرستیال رئیس.

## میر محمد کاظم هاشمي

شاعر او ممثل

## محمد منصور هاشمي

د محمدهاشم زوی په ۱۹۳۴ز کال کې د جرم په خاش کې زېږېدلی دئ. له سیمه ییز لومړني ښوونځي څخه فارغ سوی دئ. د کابل په دارالمعلمینو کې شامل سوی او له ۱۹۵۶ تر ۱۹۶۰ز کال پورې د بیروت امریکایي پوهنتون ته تللی دئ. په ۱۹۶۰ز کال کې ئې خپل لیسانس ئې په فزیک کې د کابل له پوهنتون څخه تر لاسه کړ . له ۱۹۶۳ تر ۱۹۶۵ز کال پورې ئې د امریکا د متحده ایالاتو د کولمبیا په پوهنتون کې د ښوونې او روزنې په برخې کې تحصیل وکړ. له ۱۹۶۱ تر ۱۹۶۳ز کال پورې په «دارالمعلمینو» کې تدریس وکړ. په ۱۹۶۷ز کال کې د کابل پوهنتون د ښوونې او روزنې د انستیتیوت د ساینس د پروژې مشر. په ۱۹۶۵ او ۱۹۶۹ز کلونو کې له جرم څخه د ولسي جرګې لپاره کاندید خو ټاکنې ئې دواړه ځله بایلودلې. د ۱۹۷۸ز کال د مې په میاشت کې د اوبو او برېښنا وزیر. د مرکزي کمېټې غړی. د حفیظ الله امین له پرځېدلو وروسته له کاره وشړل سو.

## ډاکټر محمد عثمان هاشمي

د محمد هاشم زوی په ۱۹۳۶ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د استقلال له لیسې څخه فارغ او بیا د کابل پوهنتون د طب پوهنځي ته تللی دئ. له ۱۹۶۵ تر ۱۹۷۰ز کلونو پورې فرانسې ته د لا نورو لوړو تحصیلاتو لپاره لاړ. په ۱۹۶۷ز کال کې ئې د D.E.A ډیپلوم په فزیالوژۍ کې تر لاسه کړ؛ (تخصصي دکتورا) [8] ئې د (لیون) [9] له پوهنتون

[8] -Doctorat de Specialite
[9] -Lyon


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ځخه په ۱۹۷۰ز کال کې ترلاسه کړه؛ او په ۱۹۷۰ز کال کې ئـې ډوګورۍ په لمنلیک کې[10] تر لاسه کړله او په ۱۹۷۰ز کال کې ئـې دا ډوګورۍ په لمن لیک کې[11] تر لاسه کړه. تر ۱۹۷۸ز کال پورې د کابل پوهنتون د طب د پوهنځي د فزیولوژۍ د دیپارتمنت پوهاند/پروفیسر. له ۱۹۷۸ تر ۱۹۸۰ز کال پورې د پلچرخي په زندان کې زنداني. په ۱۹۸۱ز کال کې په فرانسې کې سیاسي پناه غوښتونکی. د «وحدت ملي» د بنسټ ایښودونکي مرستیال. له ۱۹۸۱ز کال راهیسې په موروکو کې د کازابلانکا د طب د پوهنځي د فزیولوژۍ له لابراتوار سره کار کوي.

**نور بیا**

## ډاکټر سید خلیل الله «مسعود» هاشمیان

د سید محمد سرور کونړي زوی په ۱۹۲۹ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ؛مور ئـې...

[قدرمنو لوستونکو! د ښاغلي رحمت آریا د آرشیف: لینک]

[10] -Maitre es Sciences Medicales
[11] -Maitre de Conference Agrege de Physiology


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ